د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

چهارشنبه 8 شوال، ۱۴۴۵هـ | ۲۰۲۴/۰۴/17م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۵/14

مطبوعاتي اعلاميه

## د حاکم نظام لخوا خلافت ته د دعوت په جرم د حزب التحرير – ولايه افغانستان د وياند او يو شمېر غړو توقيف کېدل

د حزب التحرير – ولايه افغانستان وياند، استاد سيف‌الله مستنير او يو شمېر غړي د ۱۴۴۵هـ.ق کال له شعبان مياشتې راهيسې د امنيتي ځواکونو له لوري توقيف شوي دي. د دوی جرم يوازې دا دی چې د نبوت پر منهج خلافت دولت د اقامې لپاره يې دعوت او فعاليت کاوه. دا نيونې د«**خلافت؛ د نبوت سياسي ميراث**» تر سرليک لاندې د خلافت د سقوط ۱۰۳مې کليزې په مناسبت تر جوړې شوې غونډې وروسته شوې. دې ته ورته غونډې په ډېری اسلامي خاورو او همدا راز د افغانستان په ځينو ولايتونو کې جوړې شوې وې.

استاد سيف‌الله مستنير د امت له شريفو بچيانو دی چې د خلافت دولت د بيا احياء لپاره يې هڅې کولې. استاد مستنير د اشغال پر مهال د فکر او سياست په ډګر کې له پياوړو مبارزينو څخه و چې په نه ستړې کېدونکې توګه يې د سلګونو اعلاميو، مقالو، سياسي تحليلونو د ليکلو او په تلويزيوني بحثونو کې د ګډون له لارې د اشغال جنايتونه او د جمهوريت توره کارنامه په صراحت بربنډوله. له بده مرغه، په حاکم نظام کې استاد مستنير او د حزب يو شمېر غړي په دې جرم په توقيف کې دي چې د خلافت د سقوط ـ چې د مسلمانانو په تاريخ کې يوه دردناکه حادثه ده ـ يادونه يې کړې او د امت د بيا ځلي عظمت، شان او شوکت لپاره يې هڅې کړې دي. ايا د خلافت دولت د احياء او د مسلمانانو د فکري، سياسي او جغرافيوي وحدت لپاره دعوت جرم دی؟ که هو، نو د کوم شرعي قانون له مخې؟ اړتيا ده هغه دولتونه چې ځان اسلامي بولي، د دغې ورځې يادونه وکړي او امت ته د خلافت دولت ارزښت بيان کړي؛ خو نه يوازې دا چې دغه کار نه دی شوی، هغه کسان هم مجرم ګڼل شوي چې د شرعي وجيبې په توګه دا کار کوي!

﴿أَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِينَ كَالْمُجْرِمِينَ ۝ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ﴾ [قلم: ۳۶-۳۵]

**ژباړه:** *«ايا مومنان، مجرمين ګڼو!؟ پر تاسو څه شوي؟ دا څنګه پرېکړه کوئ!؟»*

چا چې د نيولو امر کړی او هغو چې د توقيف عمل يې ترسره کړی؛ کاش يو ځل يې له تعصب پرته د حزب التحرير د دعوتګرو پيغام اورېدلی او ژر فکر يې پرې کړی وای؛ بيا به يې له شک پرته د دغو دعوتګرانو د نيولو پر ځای له هغوی سره د خير د دغه ستر پيغام په حمل کې مرسته کړې وای. په حقيقت کې، هغه دعوت چې حزب التحرير يې حمل کوي؛ د الله سبحانه و تعالی له لوري فريضه او د رسول الله صلی الله عليه وسلم بشارت دی؛ دا د هر مسلمان مکلفيت دی چې د خلافت دولت د اقامې، د اسلام د بشپړ او هر اړخيز تطبيق او حمل، د مصنوعي پولو د له منځه وړلو او د امت د وحدت لپاره کار وکړي.

حزب التحرير د نږۍ تر ۴۰ زیاتو هېوادونو کې فکري او سیاسي فعالیت لري. نن ورځ د افغانستان مسلمان او مجاهد ولس؛ په ځانګړې توګه علماء، قومي مشران، جهادي او سیاسي رهبران او ځوانان د حزب التحریر دعوت پېژني او له فکر او طریقې څخه یې خبر دي. چا چې له تعصب پرته د حزب منهج درک کړی، ښه پوهېږي چې د حزب التحریر پیغام او فعالیت د افغانستان د مسلمان ولس لپاره ګواښ نه، بلکې خیر دی چې ریښه یې په اسلام کې ده او د فلاح او نهضت سبب کېږي.

حاکم نظام باید د اسلامي ارزښتونو ساتونکی او په ټولنه کې د دعوتګرانو د هڅو تسهیل کوونکی وي. برعکس، په دغو توقیفونو سره ثابتوي چې حاکم نظام د خیر لور ته د دعوت په لار کې خنډ دی. نو موږ له خپلو مجاهدو ورونو غواړو چې ژر تر ژره د حزب التحریر دعوتګران خوشي کړي؛ ځکه چې د نیولو لپاره یې هیڅ شرعي دلیل نشته.

**وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَن يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ [البروج: ۸]**

**ژباړه:** *«او د دوی په نزد د هغوی (مومنانو) یوازینی ګناه دا وه چې پر عزیز او حمید الله یې ایمان راوړی و»*

د یادونې وړ ده چې د الله سبحانه و تعالی په اذن دا ډول نیونې په هېڅ صورت د حزب د جمعي او مطبوعاتي فعالیتونو مخه نه شي نیولی، بلکې د قوي العزیز رب په مهربانۍ د هرې ورځې په تېرېدو د دعوت شدت او قوت زیاتېږي او الحمدلله دننه او بهر زرګونه مسلمان افغانان د دغه دعوت حاملین دي. دا ډول هڅې پخوا د عربو، منځنۍ اسیا او ان پرځېدلي جمهوریت د جابرو حکامو لخوا هم تجربه شوې، خو دغه ناوړه مکر یې بېرته دوی ته ورګرځېدلی. نو د حزب التحریر د دعوت مخه مه نیسئ؛ هسې نه چې د اخرت په ورځ مو دا عمل د « **صدوا عن سبیل الله**» مصداق شي، په دغه سبب دروند بار یوسئ او د هغو کسانو له ډلې شئ چې د نبوت پر منهج ثاني راشده خلافت د تاسیس لپاره د دعوت خنډ کېدل. هغه خلافت چې د الله سبحانه و تعالی وعده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم بشارت دی. موږ پوهېږو چې د افغانستان حاکم نظام د نړۍ په کچه تر بل هر نظام زیات پر خلافت د بدلېدو ظرفیت لري؛ نو تمه مو دا ده چې د نبوت پر منهج خلافت دولت ستنې د افغانستان مجاهدین کېږدي.

**﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ﴾** [نور: ۵۵]

**ژباړه:** *«الله سبحانه وتعالی له هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی دی او نېک عملونه یې کړي دي، وعده کړې چې هرو مرو به هغوی ته په ځمکه کې خلافت ورکوي؛ لکه چې هغو کسانو ته یې خلافت ورکړی و چې له دوی څخه مخکې وو.»*

**د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**